استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

پوهاند عبدالحی حبیبی

پنجشنبه۲۰ جون، ۲۰۲۴

# ادب څه شي دی؟

## اثر آموزنده و ارزشمندی از آرشیف پشتوی پوهاند حبیبی



د ادب کلمه نن ورځ په اخبارونو او کتابونو کښي دوني عامه سوې ده چي د اکثرو خلکو غوږو ته رسگېدلې او ډېرو ویونکو ویلې ده.

د ادب کلمه خو په موږ کښي په یوه معنا خورا زړه او عامه ده، فلانی ادبناك دی، فلانی بگې ادبه دی، یعني په اجتماعي رسومو او ښېگړو پابندي او ساتنه د احترام د خلکو زموږ په زړه اصطلاح ادب باله کېده، چي په دې ډول نو ادب د اخلاقو تر خط ندی وتلی.

اما اوس د ادب د کلمې لمن ارته سوې ده، او ادب دومره ارته دایره میندلې ده، چي نن ورځ د هر ملت د تمدن او لوړتیا محرك او د ټولو اجتماعي ښېگړو مرکز دی.

د عربو ادیبانو به ویله چي ادب د هر شي د انتها پلټنه او اخذ دی، مګر دا تعریف تر ادب پر ثقافت باندي سم راځي، ځني نور ادباء د ادب داسي تعریف کوي:

"ښه وینا که نظم وي که نثر ..." مګر دا هم بشپړ تعریف ندی، ځکه چي د فلسفې خاص خاص کتابونه لکه د افلاطون او ډاروین آثار که څه هم د بیان او ښکلي عبارت لخوا خورا لوړ دي

مګر پخواني ادباء او نقاد یې له ادبي آثارو څخه نه ګڼي.
دا خو د پخوانو پوهانو رای وه، مګر په اوسنۍ زمانه کښي د ادب لمن خورا پراخه سوې ده، نن ادیبان په هره خوا کښي ځي، او پر
هر څه لیکنه او وینه کوي، نن ادباء په علم، اقتصاد، فلسفي او نورو موضوعاتو کښي ګډیږي، او د بحث او څېړني راز یې بالکل پر بله خوا اړولی دی.
نن ادیبان لکه پخوا، یوازي په دې کښي زیار نه کاږي چي ښکلي وینا وکړي، یا د شعر په خیالي دنیا کښي وځغلي، کله د خولې په موهومه نقطه کښي محو سي، کله د یار د سرو مانندي ونې په ننداره کښي بېخوده سي. بلکي نن ورځ ادباء د ژوندون په حقیقي او واقعي مسئلو کښي پلټنه کوي، له خیاله څخه و حقیقت ته راغلي، له وهمه څخه د حقیقي دنیا وېش ته را اوښتي دي.
نن ورځ ادباء د ملتو د ژوندون په تطور او تبدل کښي لوی لاس لري د اولسونو د ارتقاء ملوني د ادباء په لاس دي، ادباء د یو ملت افکار او آراء د لوړتیا پر خوا بیایي.
نو دوی د ژوندون پر هر اړخ او د انسانانو د اجتماع پر هر څنګ رڼا اچوي، او انسانانو ته د حیات تیارې ور روښانه کوي. د علم او فلسفې د سیاست او اقتصاد د اخلاقو او اجتماعیاتو ملوني د ادباء په لاس کښي دي، حتی نن په دنیا کښي د توریالیو توري هم د ادباء د قلم په سیوري کښي بریښ کوي.
ولي هر ملت او هر وینښ او حساس اولس چي نن ورځ پر دنیا ژوندون کوي، په حقیقت کښي د دوی وینښوونکي ادباء دي.
نو نن ورځ ادیبان فقط ویونکي او شاعران نه دي، بلکي د ملتو لارښوونکي او وینښوونکي او پر لار سموونکي دي، له دغه جهته نو نن په دنیا کښي د ادب اهمیت تر هر څه ډېر دی، لکه چي یوه له خارجي مجلو څخه د دې اوسنۍ پېړۍ د ادب تعریف داسي کوي چي په رشتیا هم تر ټولو دغه د ادب ښه او بهتر تعریف دی:
"د ژوندون درس او وصف چي د حیات لوړتیا، او ارتقاء یکښي مقصد وي ..." په دې تعریف سره به نو اوس زموږ پېښتانه ورونه وپوهیږي چي ادب پخوا څه ؤ، او اوس څه شي سوی دی؟
نن ادب د ژوندون پر ټولو خواوو راګرزېدلی او پر بشریت په حقیقي ډول راچاپېر سوی دی، د اوسني ادیب وظیفه هم دا ده، چي پر هر څه یې سترګي ونښلي هغه ته به تجمیل او ترقي ورکوي.
د قدماء ادب خو فقط هغه اصول او علوم وه، چي په ژبه ورتوب او فصاحت او بلاغت یې اړه درلوده، مګر د نن ورځي ادب دومره ارت سوی دی چي د انسانانو د ژوندون د ټولو ښېګړو د پلټني او سموني ضامن دی.
په موږ کښي لا تر اوسه تقریباً ادب په هغه زاړه ډول موجود دی، او د اوسني ادب څخه لږ

مستفيد سوي يو، ادباء مو لا تر اوسه پر هغه لار يون کوي، تر اوسه لا نازك خيالان د ملا د وېښته پر نري توب کښي نري کيږي.

مګر خوشبختانه يوه بله خبره سته، چي د پښتو ادب او د پښتنو خپل ادبي افکار او تخيلات ټوله واقعي او حقيقي دي، يعني د خياليت منفي خوا لږ لري، يا يې نه لري، چي ګويا د نوي دنيا د مترقي ادب سره په لږ زيار اوږه پر اوږه کېداى سي، اوس نو وخت دى، چي پښتانه د خپلو ملي لوړتياوو په سلسله کښي خپل پښتني ادب هم پر اوسني ډول وروزي او د حقيقت خوا يې ښه ژوندۍ کي، او هغه د پردو اثرونه چي پر دغه ښکلي ادب باندي په کلو کلو سوي دي ورك يې کړي، او دغه ښکلي ادب ته پخپله حقيقي جامه کښي ننداره ورکړي.

زموږ ادب خو په رشتيا حقيقي دى، فقط دغه زوړ ادب پر عصري ډول روزل او ارتول او پالنه غواړي. چي د ژوندن ټوله ښېګړي پکښي و ميندل سي، او دا زموږ د پښتو ښکلی ادب په عصري ډول هم روزنه وومي.

---

(۱) طلوع افغان، ۱۳۱۷ لمريز کال، ۲۹ مه ګڼه، لومړی مخ.

پای